اونیزه مجله: 346
WEEKLY BOOKLET:346

د شیخ طریقت امیرِ اهلِ سُنّت حضرتِ علامه مولانا ابو بلال محمد
اِلیاس عطّار قادري رَضَوي دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَہ د ملفوظاتو
تحریري ګلدسته

# د امیرِ اهلِ سُنّت نه د اختر په باره کښې ۲۳ سوالونه او جوابونه

PASHTO




وروکي اختر ولې نمانځلی کېږي؟ | 02
آیا په زنانه هم د اختر لمونځ واجب دی؟ | 07
د اختر په خوشحالۍ کښې سندرې غږول څنګه دي؟ | 08
آیا د اختر لمونځ یواځې کولی شي؟ | 11



شیخ طریقت امیر اهل سنت د دعوت اسلامي بنسټګر حضرت علامه مولانا ابو بلال
محمد الیاس عطار قادری رضوی دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَہ

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ رَبِّ الۡعٰلَمِیۡنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی خَاتَمِ النَّبِیّٖنَ ط
اَمَّا بَعۡدُ فَاَعُوۡذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیۡطٰنِ الرَّجِیۡمِ ط بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ ط

# امیرِ اھلِسُنَّت نه د اختر پۀ باره کښې 23 سوالونه او جوابونه [1]

دُعائے خلیفۀ امیرِ اھلِسُنَّت: یا رَبَّ المُصطفٰے! څوک چې دا رساله "امیرِ اھلِسُنَّت نه د اختر پۀ باره کښې 23 سوالونه او جوابونه" ولولي یا واوري، د هغۀ پریشانۍ لرې کړې او هغۀ سره د موره او پلاره بے حسابه اوبخښې. اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صلّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلّم

## د دُرُود شریف فضیلت

د خوږ آخري نبي صلّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلّم فرمان مبارک دے: "اَكْثِرُوا الصَّلَاةَ عَلَيَّ يَوْمَ الْجُمُعَةِ فَاِنَّهٗ مَشْهُوْدٌ تَشْهَدُهُ الْمَلَائِكَةُ وَاِنَّ اَحَدًا لَنْ يُّصَلِّيَ عَلَيَّ اِلَّا عُرِضَتْ عَلَيَّ صَلَاتُهٗ حَتّٰى يَفْرُغَ مِنْهَا، یعني د جُمعې پۀ ورځ پۀ ما باندې پۀ کثرت سره درودِ پاک رالیږئ ځکه چې دا یومِ مَشهود (یعني زما پۀ بارګاه کښې د فرښتو د خصوصي حاضرۍ ورځ) ده، پۀ دې ورځ باندې فرښتې (خصوصي طور پۀ کثرت سره زما پۀ بارګاه کښې) حاضرېږي، چې کله څوک پۀ ما باندې درود رالیږي نو د هغۀ د فارغیدو پورې د هغۀ درود ما ته پیش کړے شي." د حضرت ابُو دَرداء رضی اللہ عنہ بیان دے چې ما عرض وکړو: (یا رسولَ الله!) او ستاسو د وصال نه پس به څۀ کیږي؟ ارشاد یې ووفرمائیلو: "آؤ! (زما د ظاهري) وفات نه پس به هم (ما ته هم داسې پیش کولے شي. "اِنَّ اللّٰهَ حَرَّمَ عَلَى الْاَرْضِ اَنْ تَاْكُلَ اَجْسَادَ الْاَنْبِيَاءِ، یعني الله پاک پۀ زمکې د انبیائے کرامو علیہم السّلام بدنونه خوړل حرام کړي دي." فَنَبِيُّ اللّٰهِ حَيٌّ يُّرْزَقُ، پس د الله پاک نبي ژوندے وي او هغۀ ته رزق هم عطا کولے شي.") (ابن ماجه، 291/2، حدیث:1637)

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

[1] دا رساله د امیراهلسنّت دامت برکاتہم العالیہ نه پۀ شوو سوالونو او د هغې پۀ جوابونو باندې مشتمله ده.

سوال: ورړوکي اختر ته خوږ اختر ولې وئيلے شي؟

جواب: ورړوکي اختر ته خوږ اختر شايد ځکه وئيلے شي چې پهٔ دې اختر کښې د اختر د نـمونځ نه مخکښې پهٔ طاق عدد کښې کجورې خوړلے کيږي کوم چې مستحب عمل دے. (ملفوظاتِ امیر اہل سنت، 311/8)

سوال: د ورړوکي اختر د نـمونځ نه مخکښې د خوږ څيز د خوړلو شرعاً څهٔ حکم دے؟

جواب: د ورړوکي اختر د نـمونځ نه مخکښې خوږ څيز پهٔ طاق عدد کښې خوړل سُنَّت دي. (فتاویٰ ہندیہ، 149/1) زمونږ پهٔ معاشره کښې خلق پهٔ دې باندې عمل هم کوي چې د ورړوکي اختر د نـمونځ نه مخکښې پهٔ کورونو کښې مينچې پخيږي او خلق يـې خوري او د نـمونځ کولو د پاره ځي. د نـمونځ نه پس شِير خورمه او پوړۍ وغيره خوري. زما عام طور دا عادت دے چې د ورړوکي اختر د نـمونځ نه مخکښې لږې شان مينچې خورم، ډيرې نه خورم ځکه چې دا د ميدې نه جوړې وي نو صحت ته نقصان هم رسولے شي. (پهٔ دې موقع باندې نګرانِ شوریٰ ووفرمائيل:) د ورړوکي اختر د نـمونځ نه مخکښې خواږهٔ خوړل پکار وي، زمونږ پهٔ کور کښې چې کوم وخت مَدَني ماحول نه وو، هُغه وخت به هم پهٔ مونږ باندې د ورړوکي اختر د نـمونځ نه مخکښې کجورې خوړلے شوې. (ملفوظاتِ امیر اہل سنت، 283/8)

سوال: ورړوکے اختر ولې نـمانځلے کيږي؟

جواب: کوم خلق چې پهٔ رَمَضَانُ الْمُبَارَک کښې [روژې نيسي] تراويح کوي، خوارې مشقت کوي نو هغوئي له د بخښنې پرواني ورکولے کيږي. د دې خلقو د پاره د اللّٰه پاک د طرف نه د خوشحالۍ يوه ورځ، پهٔ کومه ورځ چې دوئي خوشحالي کوي. د اختر شپې ته لیـلة الـجائزه (د اِنعام والا شپه) هم وئيلے شي. (شعب الایمان، 336/3، حدیث: 3695، ملفوظاتِ امیر اہل سنت، 240/8)

سوال: عيد الفطر ته ورړوکے اختر او عيد الاضحیٰ ته غټ اختر ولې وئيلے شي؟

جواب: عيد الفطر ته ورړوکے اختر او عيد الاضحیٰ ته غټ اختر وئيل دا د عوامو

اِصطلاح ده کومه چې پۀ خلقو کښې مشهوره ده. زۀ خو ورته هم عيد الفطر او عيد الاضحیٰ وايم. (ملفوظاتِ امیرِ اہلِ سنت،122/9)

سوال: آيا د اختر پۀ ورځ پۀ نوو جامو اغوستو ثواب ميلاويږي؟

جواب: د اختر پۀ ورځ نوې يا وينځلے شوې پاکې جامې اغوستل مستحب عمل دے. (فتاویٰ ہندیہ،149/1) پۀ دې شرط چې د ثواب پۀ نيت واغوستے شي، که د فخر او ځان ښودلو د پاره واغوستے شي نو د ثواب پۀ ځائے به د ګناه حق دار شي. (ملفوظاتِ امیرِ اہلِ سنت،179/9)

سوال: چې مياشت وليدے شي نو خلق ډزې کوي. آيا داسې کول جائز دي؟

جواب: دلته پاکستان کښې هوائي ډزې کول قانوني طور منع دي، کيدے شي چې پۀ نورو ملکونو کښې هم منع وي، خو بيا هم د اختر مياشت چې کله وليدے شي نو خلق ډزې کوي او درز درُز جوړ کړي، داسې نه دي کول پکار. چې کله مياشت وليدے شي نو د مياشت د ليدو دُعا لوستل پکار دي. (2)

(ابو داود،419/4، حديث:5092ماخوذاً)(ملفوظاتِ امیرِ اہلِ سنت،316/6)

سوال: نزدې ده چې " لیـلة الـجائزه" (يعني د وړوکي اختر شپه) بۀ راشي، پۀ دې شپه باندې کوم يو عبادت افضل دے؟

جواب: د اختر پۀ ټوله شپه ويښ پاتې کيدل او عبادت کول لږ ګران وي ځکه چې سحر د وړوکي اختر نـمونځ کول او د هغې د پاره تياري هم کول وي لهٰذا دا ضروري

---

2 ... رسولِ اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چې به کله مياشت وليدله نو دا دُعا به يې لوستله: اَللّٰهُمَّ اَهِلَّهٗ عَلَيْنَا بِالْاَمْنِ وَالْاِيْمَانِ وَالسَّلَامَةِ وَالْاِسْلَامِ رَبِّيْ وَ رَبُّكَ اللهُ ترجمه: اے الله پاکه! دا پۀ مونږه باندې د امن او ايمان، سلامتيا او اِسلام سره رابښکاره کړې، (اے مياشتې!) زما او ستا رَبّ، الله پاک دے. (مستدرک حاکم، 405/5، حديث:7837) د قمري مياشتې د وړومبۍ، دويمې او دريمې شپې مياشت ته هلال وئيلے شي د دې نه پس شپو والا مياشت ته قمر وئيلے شي- (مرقاة المفاتيح،283/5) دا دُعا د وړومبۍ، دويمې او دريمې شپې پورې لوستلے شي-

نه ده چې هر څوک ټوله شپه ویښ پاتې شي او عبادت وکړي. بهر حال که ټوله شپه ویښ نه شي پاتې کیدے او عبادت نه شي کولے نو د ماسخوتن نـمونځ د جَمعې سره وکړئ او بے شکه اوده شئ او د سحر نـمونځ هم د جَمعې سره وکړئ نو داسې به هم ټوله شپه د عبادت کولو ثواب میلاو شي او دا فضیلت صرف د اختر د شپې د پاره خاص نه دے بلکې څوک چې هره ورځ د ماسخوتن او سحر نـمونځونه د جَمعې سره کوي هغهٔ ته روزانه د ټولې شپې د عبادت کولو ثواب میلاویږي. (3)

## د اخترونو پهٔ شپه باندې د عبادت کولو فضیلت

د ”لیـلة الـجائزه“ یعنې د وړوکي اختر پهٔ شپه د عبادت کولو ډیر فضیلت دے، د خوږ مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: چا چې د اخترونو پهٔ شپه باندې د ثواب د طلب د پاره قیام وکړو، پهٔ هٰغه ورځ به د هغهٔ زړهٔ نه مړ کیږي پهٔ کومه ورځ به چې (د خلقو) زړونه مړهٔ شي. (ابن ماجه، 2/365، حدیث:1782) پهٔ یو بَل ځائے کښې د حضرت سَیِّدُنا مُعاذ بن جبل رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دے چې څوک پهٔ پینځو شپو کښې شَب بیداري وکړي (یعنې ویښ پاتې شي او عبادت وکړي) د هغهٔ د پاره جنّت واجب شي، د ذُوالحجه پهٔ اتمه، نهمه، لسمه شپه، د وړوکي اختر او د شعبانُ المُعظم پهٔ پینځلسمه شپه یعنې پهٔ شَبِ براءَت. (الترغیب والترهیب، 2/98، حدیث:2)

## د عامې معافۍ اِعلان

د حضرت سَیِّدُنا عبدُ الله اِبنِ عباس رَضِیَ اللهُ عَنْهُما پهٔ یو روایت کښې دا هم دي:

---

(3) ... د حضرتِ سیِّدُناعثمان غني رَضِیَ اللهُ عَنْه نه رِوایت دے چې رَسُولُ الله صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائیلے: څوک چې د ماسخوتن نـمونځ د جَمعې سره وکړي لکه هغهٔ چې نیمه شپه قیام وکړو او څوک چې د سحر نـمونځ د جَمعې سره وکړي لکه هغهٔ چې ټوله شپه قیام وکړو. (مسلم، ص258، حدیث:1491)

چې کله د وړوکي اختر مبارکه شپه تشريف راوړي نو دا د " ليــلة الــجائزه" يعنې "د انعام د شپې" پهٔ نوم يادېږي. چې کله د اختر سحر شي نو **الله** پاک خپلې معصومې فرښتې ټولو ښارونو ته ولېږي، نو هُغه فرښتې زمکې ته تشريف راوړي او د ټولو کوڅو او لارو پهٔ سرونو باندې اودرېږي او داسې اواز کوي: "اے اُمَّتِ مُحَمَّد! د هُغه رَبِّ کريم د بارګاه پهٔ لور لاړ شئ! کوم چې ډېر زيات عطا کوونکے او د غټې نه غټه ګناه معاف کوونکے دے." بيا **الله** پاک خپلو بندګانو ته داسې مخاطب شي: "اے زما بندګانو! وغواړئ! څهٔ غواړئ؟ زما د عزّت او جلال قسم! پهٔ ننۍ ورځ د دې (اختر د نـمونځ پهٔ) اجتماع کښې چې د خپل آخرت پهٔ باره کښې څهٔ سوال کوئ هغهٔ به پوره کووم او څهٔ چې د دُنيا پهٔ باره کښې غواړئ پهٔ هغې کښې به ستاسو ښيګړې ته ګورم (يعنې پهٔ هغه معامله کښې به هغه کووم پهٔ کومه کښې چې ستاسو بهتري وي) زما پهٔ عزّت قسم! تر څو پورې چې تاسو زما لحاظ ساتئ زهٔ به هم ستاسو خطاګانې پټووم. زماد عزّت او جلال قسم! زهٔ به تاسو د حد نه د اوړېدونکو (يعنې مجرمانو) سره نه رُسوا کووم. بس د خپلو کورونو پهٔ لور بخښلے شوي وګرځئ. تاسو زهٔ راضي کړم او زهٔ هم ستاسو نه راضي شوم. (الترغيب والترهيب،2/60،حديث:23)(ملفوظاتِ امير اہلسنت،8/299،301)

**سوال:** " څوک چې د وړوکي اختر او د غټ اختر پهٔ شپه باندې قيام [عبادت] وکړي نو د هغهٔ زړهٔ به هُغه وخت نه مړ کيږي چې کله به د خلقو زړونه مړه شي." دلته د زړهٔ د مړه کيدو نه څهٔ مُراد دے؟

**جواب:** پهٔ حديثِ پاک کښې دي: چا چې د اخترونو پهٔ شپه باندې د ثواب د طلب د پاره قيام وکړو، د هغهٔ زړهٔ به هُغه وخت نه مړ کيږي کله چې به (د خلقو) زړونه مړه شي. (ابن ماجه،2/365،حديث:1782) د دې حديثِ پاک پهٔ شرح کښې دي: زړهٔ نه مړه کيدل يو څو معنې لري: ﴿1﴾ د هغهٔ زړهٔ به د دُنيا پهٔ محبت کښې نهٔ ډوبيږي او د آخرت نه به نهٔ لرې کيږي ﴿2﴾ د هغهٔ زړهٔ به د بَدې خاتِمې نه محفوظ پاتې کيږي. (فيض القدير ،6/248،تحت الحديث:8903)

﴿3﴾ د قبر پهٔ سوالونو او د حشر پهٔ ميدان کښې به هم د هغهٔ زړهٔ مطمئين وي. (حاشية الصاوى على الشرح الصغير، 527/1) علمائے کرام فرمائي: دا فضيلت به د اکثرې شپې پهٔ عبادت کولو هم حاصل شي مثلاً که شپه اتهٔ گينټې ده نو د پينځه گينټو د عبادت سره به هم دا فضيلت حاصل شي. (4) او يو قول دا هم دے چې د اخترونو پهٔ شپه به د تهجدو کولو سره هم دا فضيلت حاصل شي. (مرأة المناجيح، 262/2) د دې حديثِ پاک د شرح لوستو سره کيدے شي چې د هر يو دا ذِهن جوړ شي چې [کاش] پهٔ ژوند کښې کم از کم يو ځل خو ضرور د اخترونو پهٔ شپه قيام وکړم. (ملفوظاتِ امير اہلِ سنت، 305/8)

**سوال:** آيا پهٔ زنانؤ باندې د اختر نـمونځ کول واجب دے؟

**جواب:** نهٔ جي! پهٔ زنانؤ باندې د اختر نـمونځ کول واجب نه دے.

(فتاوىٰ رضويه، 615/27 ملفوظاتِ امير اہل سنت، 284/8)

**سوال:** آيا صحابهٔ کرامو رضی الله عنهم به هم يو بَل له د اختر مبارکي ورکوله؟

**جواب:** آؤ جي! صحابهٔ کرامو رضی الله عنهم به هم يو بَل له د اختر مبارکي ورکوله او يو بل ته به يې دا دُعا هم کوله چې تَقَبَّلَ اللهُ مِنَّا وَمِنْكَ يعنې **الله** پاک دې زمونږه او ستاسو اَعمال قبول کړي. (سنن الکبریٰ للبيهقى، 446/3، حديث: 2694) مونږ له هم پکار دي چې کله هم چا له د اختر مبارکي ورکوو نو ورسره هغه ته دا دُعا هم کوو. د اختر د مبارکۍ ورکولو پهٔ وخت پهٔ دې الفاظو "تَقَبَّلَ اللهُ مِنَّا وَمِنْكَ" دُعا کول مستحب عمل دے.

(در مختار، 56/3 ملفوظاتِ امير اہل سنت، 311/8)

**سوال:** "عيد مُبارِک" صحيح دے که "عيد مُبارَک"؟

**جواب:** ډير خلق دا لفظ د راء د زير سره يعنې "مبارِک" لولي، حالانکې دا د راء د زبر سره دے يعنې "مُبارَک"، پهٔ قرآنِ کريم کښې هم لفظ "مبارَک" راغلے دے.

---

4... کوم بنده چې د شپې اکثره حصه يا نيمه حصه ويښ پاتې شي او عبادت وکړي نو د هغهٔ د پاره د ټولې شپې د ويښې تيرولو ثواب ليکلے کيږي. (قوت القلوب، 74/1)

(پ17، الانبيآء: 50 **ملفوظاتِ امیرِ اہلِ سنت**، 131/8)

سوال: آیا ټول مسلمانان يو بَل له د اختر مبارکي ورکولے شي؟ عموماً د اختر د مبارکۍ ورکولو پۀ وخت کزن او ليور او ورندار ټول د يو بَل سره لاس ميلاوهي، مشر ليور هم د ورندار پۀ سر باندې لاس راښکي، آیا دا صحيح دي؟

جواب: ټول مسلمانان پۀ خپل مينځ کښې يو بَل له مبارکي ورکولے شي، البته شرعي قيد پۀ هر ځائے کښې وي او د دغې شرعي قيد پۀ وجه نامحرمه يو بَل له مبارکي نشي ورکولے. داسې ليور او ورندار هم يو بَل له مبارکي نشي ورکولے ځکه که ليور او ورندار پۀ خپل مينځ کښې يو بَل له مبارکي ورکوي نو تعلق به زياتيږي او د ګناهونو دروازے به برسيره کيږي. پۀ حديثِ پاک کښې دي: ليور د ورندار پۀ حق کښې مرګ دے. (ترمذی، 391/2، حدیث:1174) نامحرمه هغه وي د کومو سره چې نکاح د هميشه د پاره حرامه نه وي. د مشر ليور د پاره هم لازمي دي چې د ګشرې ورندار پۀ سر باندې لاس نه راښکي. تر څو پورې چې د يو بَل سره د لاسونو ميلاوهلو تعلق دے نو دا نور هم ډير زيات خطرناک او دوزخ ته بوتلونکے کار دے. د حضورِ اکرم صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ذات مبارک د ټولو نه زيات د شيطان نه محفوظ وو، د هغوئي نه زيات نور څوک د شيطان نه محفوظ پاتې کيدے شي! بيا هم "حضورِ اکرم صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پۀ خپل لاس کښې د زنانه د لاس نيولو سره چرې هم بيعت نه دے فرمائيلے." (بخاری، 217/2، حدیث: 2713) نن سبا زمونږ پۀ معاشره کښې داسې جاهلان پيران صاحبان هم موجود دي چې د زنانه بيعت کولو پۀ وخت د زنانه لاس نيسي او پۀ هغې باندې خپل لاس هم ښکلوي، د داسې پيرانو نه پۀ لرې اوسيدو کښې عافيت دے. (**ملفوظاتِ امیرِ اہلِ سنت**، 306/8)

سوال: کوم خلق چې د کار پۀ سلسله کښې د خپلو کورونو نه لرې وي، د اختر پۀ ورځ هم کور ته نشي تلے نو داسې خلق خپل دوستان راوغواړي يا د خپل سټاف سره پۀ

شریکه د اختر خوشحالي پهٔ سازونو او سندرو کوي آیا د دوئي داسې کول صحیح دي؟
**جواب:** د اختر پهٔ ورځ خو خاص طور د **اللّٰه** پاک عبادت کول پکار دي او د ګناهونو نه بچ کیدل پکار دي. کوم خلق چې د اختر خوشحالی نشي حاصلولے هغوئي د ځان سره پهٔ خوشحالو کښې شریکول پکار دي. د اختر پهٔ ورځ د سازونو سندرو غږولو سره د اختر خوشحالي کول صحیح خبره نه ده. د نن سبا پهٔ مسلمانانو باندې څهٔ شوي دي چې د اختر پهٔ شپه باندې سندرې سازونه غږوي او لکه پهٔ دې خبره باندې خوشحالي کوي چې نن شیطان لعین ازاد شوے دے او هغهٔ پهٔ سازونو او سندرو غږولو خوشحالوي. بعضې وخت پهٔ دومره تیز اواز سندرې غږولے شي چې که پهٔ سړک تیریدونکے ګس هم چرې د میوزک نه بچ کیدل غواړي نو بیا هم نشي بچ کیدے. بهر حال پهٔ سړک باندې د تیریدونکي ګس د پاره هم شرعاً دا حکم دے چې که د هغهٔ غوږونو ته چرې د میوزک اواز راځي نو پهٔ غوږونو کښې دې ګوتې ورکړي او زر دې تیر شي، که قصداً عمداً پهٔ ورو ورو ځي چې د میوزک اواز دې راځي نو بیا به دا ګنهګاریږي. (ردالمحتار،651/9ماخوذاً) پهٔ اوسنی زمانه کښې مَعَاذَاللّٰه! ډیره آسانه شوې ده مثلاً پهٔ دوستانو کښې څوک اعتکاف ته ناست دے، چې څنګه د هغهٔ اعتکاف پوره شي نو د هغهٔ دوستانو د هغهٔ د پاره پهٔ تحفه کښې د سینما ټکټ اخستے وي چې ټول دوستان به مَعَاذَاللّٰه! پهٔ شریکه فلم ګورو. د اختر پهٔ ورځ د Film theatre نه بهر بورډ لګیدلے وي چې نن هاؤس فُل دے. اوس خو د هر یو ګس پهٔ لاس کښې موبائل موجود دے پهٔ دې کښې خو ټوله سینما پرته نن سبا مسلمان خپل ځان ازاد ګڼي خو پهٔ حقیقت کښې مسلمان ازاد نه دے بلکې د شریعت د قوانینو پابند دے. یو مسلمان که ګناه وکړي نو چرته به تښتي، یوه ورځ خو به ضرور مړ کیږي، که **اللّٰه** پاک د هغهٔ د ګناهونو پهٔ وجه ناراضه شو نو پهٔ قبر او حشر کښې به په عذاب کښې اخته کیږي.

| | |
|---|---|
| چُھپ کے لوگوں سے کیے جس کے گناہ | وہ خبردار ہے کیا ہونا ہے |

## د اختر پهٔ ورځ د نوؤ جامو اغوستلو وخت کښې کفن نه دې هېرول پکار

حضرت عبيد الله بن شميط رحمۃُ اللہِ علیہ بيانوي: زما والدِ محترم حضرت شميط بن عجلان رحمۃُ اللہِ علیہ د اختر پهٔ اجتماع کښې چې خلق وليدل نو اوئې فرمائيل: داسې جامې ښکاري کومې چې به زړې شي او داسې غوښې ښکاري چې سبا به (پهٔ قبر کښې) د چينجو خوراک شي. (حلیۃالاولیاء، 153/3، رقم:3516) هر مسلمان له د **الله** پاک نه ويريدل پکار دي، د اختر پهٔ ورځ اګرچې بنده نوې جامې اغوندي خو د هغه نوؤ جامو له وجهې په غفلت کښې اخته کيدل او کفن نه دې هېرول پکار، دا خنداګانې او خوشحالۍ د انسان پهٔ بدن د يو څو ورځو د پاره وي، د دې نه پس خو دا بدن پهٔ قبر کښې د چينجو خوراک جوړيدل ي. **الله** پاک دې مونږ ټول د قبر د عذاب نه **محفوظ** وساتي. اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صلَّی اللہُ علیہِ واٰلہٖ وسلَّم (ملفوظاتِ امیر اہل سنت، 308/8)

**سوال:** د اختر پهٔ ورځ ماشومانو له څهٔ کول پکار دي؟

**جواب:** چې کوم ماشوم هوښيار وي، نـمونځ ورله ورځې، پهٔ جومات کښې د نورو ماشومانو پهٔ شان ورانے نه کوي نو داسې ماشومان جومات ته راوستے شئ. که داسې ماشوم وي چې جومات کښې ورانے کوي، چې د هغې په وجه نـمونځ کوونکي هم پريشانه کيږي نو هغه جومات ته نشئ راوستے. مور پلار ته د بچو پته وي چې د هغوئي بچے ورانے کوي که نهٔ؟ هسې هم د اختر ماحول وي، د ماشومانو ذِهن عموماً د اختر د ورځې عبادت نه وي، هغوئي ته د هر ځائے نه څهٔ نا څهٔ عيدي [د اختر پيسې] ميلاويږي او د دې نه علاوه نوې او ښې جامې واغوندي او پهٔ لوبو ټوقو کښې مشغول شي. کوم ماشومان چې هوښيار وي هغوئي له د اختر پهٔ ورځ سُبْحٰنَ اللہِ وَبِحَمْدِہٖ 300 کرته لوستل پکار دي، او بيا دې اُووائي چې "د دې ثواب مې حضرت آدم علیہِ السَّلام او د

دنيا ټولو مسلمانانو ته اوبخښو" دغه شان د نوم اخستو سره بزرګانِ دِين رحمۃُاللہِ علیہم ته هم ايصالِ ثواب کيدے شي مثلاً د دې ثواب مې غوثِ پاک او اعلیٰ حضرت، امام احمد رضا خان رحمۃُاللہِ علیہما ته اوبخښو، د نورو خپل نيا نيکه او نورو خپلوانو نومونه هم اخستے شي، دې ته اِيصالِ ثواب وئيلے شي. پهٔ ايصالِ ثواب کښې چې د کومو حضراتو نومونه اخستے شي هغوئي پهٔ خپلو قبرونو کښې خوشحاليږي. دا داسې وګڼئ چې يو ګس پهٔ لوئي کچ خلقو له دعوت ورکړے دے، پهٔ هُغه دعوت کښې ډيرې کورنۍ موجودې دي، پهٔ هُغه دعوت کښې کوربه پخپله يوې کورنۍ ته توجه وکړي او نوم يې واخلي چې "جناب تاسو اوخورئ کنه" نوچې د کوم ګس نوم اخستو سره کوربه وئيلي وي نو هغهٔ به ضرور خوشحاليږي چې يار پهٔ دومره ډيرو خلقو کښې يې زما نوم واخستو او ما له يې خاص عزت راکړو لهٰذا د ايصالِ ثواب کولو پهٔ وخت د خپلو بزرګانِ دِين رحمۃُاللہِ علیہم نومونه هم اخستل پکار دي چې هغوئي پهٔ خپلو مزارونو کښې خوشحاليږي. (ملفوظاتِ امیر اہلسنت، 308/8)

سوال: که چا د څهٔ مجبورۍ له کبله د اختر نـمونځ د جَمعې سره ونـکړو نو هغهٔ به يواځې نـمونځ څنګه کوي.

جواب: د اختر نـمونځ يواځې نه کيږي. (ہدایہ، 85/1) د دې د پاره جَمعه ضروري ده او بيا د دې د جَمعې ورکولو هم شرطونه دي مثلاً چې کوم امام د پينځه وخته نـمونځونو د امامتۍ پهٔ شرطونو باندې پوره وي نو بيا هم [په بعضې صورتونو کښې] هغهٔ د اختر او د جُمعې د نـمونځ جَمعه نشي ورکولے څکه چې د اختر او د جُمعې د جَمعې ورکولو د پاره څهٔ نور شرطونه هُم دي، بهر حال که د چا نه د څهٔ غفلت له وجهې د اختر نـمونځ پاتې شو او پهٔ ټول ښار کښې يې [نـمونځ لاندې] نهٔ کړو نو ګنهګاريږي به لهٰذا توبه دې وکړي. (ملفوظاتِ امیر اہلسنت، 452/2)

سوال: د عيدي [د اختر پيسې] ورکولو څهٔ انداز پکار دے؟

جواب: د عيدي ورکولو څهٔ مخصوص طريقه نشته، البته! د مسلمان د زړهٔ د خوشحالولو پهٔ نيت سره عيدي ورکولے شې، چې چا له عيدي ورکولے شي که هغهٔ خپل وي نو د صِله رحمی (يعنې د خپلوانو سره د ښهٔ سلوک) نيت دې هم وکړي، هم داسې چې کومو ماشومانو ته پهٔ عيدي ورکولو د هغوئي مور پلار خوشحاليږي نو د عيدي ورکولو پهٔ وخت د هغوئي د مور پلار د خوشحالولو نيت هم کيدے شي. ياد ساتئ! دا ضروري نه ده چې هر يو ماشوم له عيدي ورکولو باندې د هغوئي مور پلار خوشحاليږي، لهٰذا د موقعې خيال ساتل پکار دي. (ملفوظاتِ امير اہلسنت، 194/8)

سوال: عيدي پهٔ لفافه کښې ورکول بهتر دي کهٔ بغير د لفافې نه؟

جواب: ماشومانو له بغير د لفافې نه عيدي ورکول بهتر دي، ځکه چې په نوو نوټونو ليدو ماشومان ډير خوشحاليږي. آؤ! عُلماء او مشائخو ته احتراماً پهٔ لفافه کښې پيسې ورکول پکار دي د پاره د دې چې نورو ته ښکاره نه شي. (ملفوظاتِ امير اہلسنت، 195/8)

سوال: د اختر پهٔ ورځ چې ماشومانو ته کومه عيدي ميلاويږي، ماشومان هغه عيدي څنګه استعمالولے شي؟

جواب: د اختر پهٔ ورځ چې ماشومانو ته کومه عيدي [د اختر پيسې] ميلاويږي نو ماشومان د هغې مالکان وي. بعضې ماشومان پخپله هوښيار وي نو د ځان سره څهٔ پيسې وساتي. ماشومان خپله عيدي د خپل والد صاحب سره هم جمع کولے شي. مشر له هم پکار دي چې د ماشومانو عيدي د خپل ځان سره محفوظ وساتي يا پهٔ هغه پيسو ماشومانو له څهٔ څيز واخلي. (ملفوظاتِ امير اہلسنت، 307/8)

سوال: که د چا مور پلار د اختر نه درې يا شپږ مياشتې مخکښې وفات شي نو آيا د هغوئي کور والؤ ته وروسته اختر نـمانځل پکار دي؟

جواب: غم تر دريو ورځو پورې جائز دے. آؤ که د کومې زنانه خاوند وفات شوے وي نو د هغې د غم موده څلور مياشتې او لس ورځې وي. (بہارِ شریعت، 855/1، حصه:4) که

د يوې زنانه ځلمے ځوي وفات شوے وي نو د هغه د جدايۍ غم د مور سره ټول عمر وي نو داسې زنانه پهٔ خپل اختيار کښې نه وي. بهر حال د دريو يا شپږو مياشتو نه پس اختر هُم نـمانځلے شي، د اختر نوي جامې هم اغوستے شي او يو بَل له د اختر مبارکي هم ورکولے شي. د مړي کور والؤ کښې بعضې خلق دومره بيوقوفي وکړي چې پهٔ غټ اختر کښې قرباني هم نه کوي، تر دې پورې نوبت راشي چې پهٔ خپل کور کښې د خوشحالۍ ماحول هم نه جوړوي.

بعضې خلق داسې هم وي چې د خلقو د پيغورونو نه د بچ کيدو د پاره د قربانۍ پهٔ ښاروي کښې يوه حصه ونيسي. ياد ساتئ! د اختر پهٔ ورځ خوشحالي کول سُنَّت عمل دے او د حضور صَلَّی اللہُ علیہِ واٰلہٖ وسلَّم نه د اختر پهٔ ورځ خوشحالي کول ثابت ده. (مراٰۃالمناجیح، 359/2) **الله** پاک پهٔ قرآنِ کريم کښې اِرشاد فرمائي:

﴿قُلْ بِفَضْلِ اللّٰهِ وَ بِرَحْمَتِهٖ فَبِذٰلِكَ فَلْيَفْرَحُوْا ﴾ (پ11، یونس:58)

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُالعِرفان: "ته اوفرمايه: د **الله** په فضل او د هغه په رحمت باندې خوشحالئ کول پکار دي"

" د **الله** پاک د فضل او رحمت ورځ د اختر ورځ [هُم] ده، پهٔ دې ورځ خوشحالي کول پکار دي. (ملفوظاتِ امیر اہلِ سنت، 265/8)

سوال: د رَمَضَانُ المُبَارَک نه پس چې پهٔ شَوَّالُ المکرَّم کښې کومې روژې نيولے شي د هغه روژو ثواب د يو کال د روژو برابر دے که د ټول عمر د روژو برابر دے؟ آيا دا روژې هم پهٔ شوال کښې نيول ضروري دي که وروستو يـې هم نيولے شي؟

جواب: د شَوَّالُ المکرَّم د روژو د فضيلت پهٔ باره کښې د خوږ مصطفٰے صَلَّی اللہُ علیہِ واٰلہٖ وسلَّم درې فرامين مبارک وړاندې کووم: ﴿1﴾ چا چې د رَمَضان روژې ونيولې بيا يـې د هغو نه پس 6 روژې په شَوّال کښې ونيولې نو هغه د ګناهونو نه داسې اُووتو لکه هُم

نن چې د مور د ګېډې نه پیدا شوے وي۔ (معجم اوسط،6/234، حدیث:8622) ﴿2﴾ چا چې د رَمَضان روژې ونیولې بیا یې د هغو نه پس 6 روژې په شَوّال کښې ونیولې نو هغه داسې دے لکه د ټول عمر روژې یې چې ونیولې۔ (مسلم، ص:456، حدیث:2758) ﴿3﴾ چا چې د وړوکي اختر نه پس پهٔ شوال کښې شپږ روژې ونیولې لکه هغهٔ چې د ټول کال روژې ونیولې، ځوک چې یوه نیکي راوړي هغهٔ ته به لس میلاویږي نو د رمضان د میاشتې روژې د لسو میاشتو برابر دي او دا شپږ روژې د دوو میاشتو برابر، نو د ټول کال روژې شوې. (سنن کبری للنسائی،2/163162، حدیث:28612860) د بهارِ شریعت پهٔ حاشیه کښې دي: بهتر دا دي چې دا روژې بیلې بیلې ونیولے شي او د اختر نه پس که پرله پسې شپږ روژې پهٔ یو ځائے ونیولے شي نو بیا هم پکښې څهٔ باک نشته. (بهارِ شریعت،1/1010، حصه:5) بس د اختر پهٔ ورځ یعنې د شوال پهٔ وړومبي تاریخ روژه مهٔ نیسئ.(ملفوظاتِ امیر اہلسنت،2/468)

سوال: خلق وائي چې د وړوکي اختر او غټ اختر پهٔ مینځ کښې واده ښادي نه دي کول پکار، پهٔ دې کښې څومره حقیقت دے؟

جواب: د وړوکي اختر او غټ اختر پهٔ مینځ کښې واده ښادي کیدے شي بلکې د وړوکي اختر او د غټ اختر پهٔ ورځ هم دا دستوري کیدے شي. ډیر خلق پهٔ دې ورځو کښې ودونه کوي، پهٔ دې کښې هیڅ باک نشته. پهٔ ټول کال کښې یوه ورځ هم داسې نشته چې نکاح یا واده پکښې نشي کیدے. (ملفوظاتِ امیر اہلسنت،8/231)

سوال: د اختر پهٔ ورځ 300 کرته د سُبْحٰنَ اللهِ وَبِحَمْدِہٖ وظیفه پهٔ جومات کښې لوستل لازمي وي که پهٔ کور کښې یې هم لوستلے شي؟ آیا زنانه هم دا وظیفه کولے شي؟

جواب: د سُبْحٰنَ اللهِ وَبِحَمْدِہٖ وظیفه نارینه او زنانه دواړه کولے شي، پهٔ دې وظیفه کښې هیڅ تخصیص نشته چې پهٔ کور کښې لوستل دي که پهٔ جومات کښې، چرته چې هم پهٔ لوستو کښې اساني وي هم هلته یې لوستلے شئ. د دې وظیفې فضیلت دا دے چې

څوک د اختر پهٔ ورځ سُبْحٰنَ اللهِ وَبِحَمْدِہٖ 300 کرته ولولي او ټولو مسلمانانو ته يې اِيصالِ ثواب کړي نو پهٔ هغوئي کښې به د هر يو پهٔ قبر کښې يو زر [1000] انوار داخليږي او چې کله د دې وظيفې لوستونکے وفات شي نو د هغهٔ پهٔ قبر کښې به هم يو زر [1000] انوار داخليږي. (مكاشفة القلوب، ص308) د اختر پهٔ ورځ د صبا صادق نه واخله تر د نـمر پريوتو پورې ټوله ورځ د اختر ورځ ده، پهٔ دې کښې څهٔ وخت هم دا وظيفه لوستلے شئ، د اختر پهٔ ورځ روژه نيول جائز نه ده.

(فتاویٰ ہندیہ، 201/1، ملفوظاتِ امیرِ اہلِ سنت، 307/8)

سوال: آيا د اختر پهٔ ورځ هم د مريضانو تپوس کول پکار دي؟

جواب: آؤ جي، د اختر پهٔ ورځ هم د مريضانو تپوس کول پکار دي. بعضې وخت مريض د اختر پهٔ وړومبۍ ورځ د خپلو خپلوانو او دوستانو انتظار کوي چې نن وړومبے اختر دے، زما دوست به زما سره د ملاقات د پاره ضرور راځي او د اختر مبارکي به راسره کوي. که دوست يـې د اختر د وړومبۍ ورځ پهٔ ځائے پهٔ دويمه ورځ راشي نو مريض دومره نه خوشحاليږي څومره چې پهٔ وړومبۍ ورځ خوشحاليږي، بيا دوست هم پهٔ دويمه ورځ راشي او قِسما قِسم عُذرونه بيانوي چې ميلمانه راغلي وو يا د فلانکي ترهٔ کور ته د اختر مبارکۍ له تلے ووم. که کيدے شي نو د مريض مالي مرسته هم کول پکار دي چې بعضې وخت مريض ډير پهٔ بد حالت کښې وي او ډاکټر صاحب وئيلي وي چې فلانکۍ ګولۍ اخستل ډيرې ضروري دي، خو د هغهٔ سره د ګولو اخستو پيسې نه وي او تپوس کوونکي حضرات ګلونه وړي، حالانکې بهتره دا ده چې مريض له رقم ورکړے شي چې پهٔ هغې هغهٔ خپل ضرورتونه مثلاً ګولۍ او نوره دوائي وغيره واخلي. بعضې وخت تپوس کوونکے پهٔ بے خيالۍ کښې ڈهغه خيز راوړي د کوم نه چې د مريض پرهيز وي مثلاً د مريض شوګر دے او تپوس کوونکے د هغهٔ د زړهٔ ساتلو پهٔ نيت متهائي راوړي نو مريض خوار به ورته پهٔ بستره

کښې پسخیږي ځکه چې هغه متهائي نشي خوړے، بالفرض که پهٔ جوش کښې راشي او متهائي وخوري نو وروستو به ورته نقصان ورسي ځکه چې متهائي خو د شوګر د مریض د پاره زهر وي چې له وجهې یـې مریض مړ کیدے هم شي. بیا متهائي جوړوونکي خرابه کهویا اچوي چې له وجهې یـې د انسان طبیعت خرابیږي. ټولو متهائیانو والا داسې نه وي خو کوم خلق چې داسې کوي هغوئي له د **الله** پاک نه ویریدل پکار دي. (ملفوظاتِ امیر اہلِ سنت، 310/8)

# هفته واره رساله مطالعه

اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د شیخ طریقت امیرِ اهلِ سُنَّت حضرتِ علامه مولانا محمد اِلیاس عطّار قادري رَضَوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه او خلیفهٔ امیرِ اهلِ سُنَّت الحاج ابو اُسَید عُبَید رضا مَدَني مدّ ظلّه العالی له طرفه هره هفته د یوې رسالې لوستلو یا اوریدلو ترغیب ورکولے کیږي. ما شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! لاکهونه اسلامي ورونه او اسلامي خویندې دا رساله لولي یا اوري او د امیرِ اهلِ سُنَّت او خلیفهٔ امیرِ اهلِ سُنَّت د دعاګانو حقدار جوړیږي. دا رساله په آدیو کښې د دعوت اسلامي د ویب سائټ

www.Dawareislami.net یا د Read and listen Islamic book ایپلي کیشن نه فري داؤن لوډ کیدے شي. د ثواب په نیّت یې پخپله هُم لوّلئ او د خپلو مرحومینو د ایصالِ ثواب دپاره یې تقسیموئ هُم.

(هفته واره رساله مطالعه)

978-969-722-625-2
01082472

فیضانِ مدینہ محلّہ سوداگران، پرانی سبزی منڈی کراچی
UAN +92 21 111 25 26 92 0313-1139278
www.maktabatulmadinah.com / www.dawateislami.net
feedback@maktabatulmadinah.com / ilmia@dawateislami.net